# خپلمنځي خبرې اترې؛ احتمالي خنډونه او حل لارې

## د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز - کابل

**تحليل** CSRS | **شماره:** ۳۵۵

30 سنبله ۱۳۹۹ هـ ش / 20 Sep 2020

ويبسايت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.af

لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت انکشاف مطالب این نشریه به این آدرس ها با ما شریک سازید.

ايميل: csrskabul@gmail.com - info@csrskabul.com

---

لومړی تحليل

دويم تحليل

# خپلمنځي خبرې اترې؛ احتمالي خنډونه او حل لارې



د دوحې د سولې هوکړې وروسته ټاکل شوې وه، بین الافغاني خبرې اترې د مارچ په لسمه نېټه پیل شي. خو د افغان حکومت لخوا د دوحې تړون په خلاف د طالب بندیانو نه خوشې کولو او همدارنګه د کرونا وبا له امله یادې خبرې اترې د ۶ میاشتني ځنډ ښکار شوې. د بندیانو خوشې کېدو په برخه کې د بهرنیو هېوادونو فشار او همدا ډول د هغې لویې جرګې چې د اګست میاشتې په اوومه نېټه ترسره شوه د سپارښتنو په پایله کې چې افغان حکومت لخوا راغوښتل شوې وه، زیات شمېر طالب بندیان له بند څخه آزاد کړای شول. د جرګې سپارښتنو سربېره افغان حکومت د فرانسې او استرلیا هېوادونو په ګډون د ځینو امریکایي چارواکو په غوښتنه د پینځو زرو طالب بندیانو له ډلې شپږ تنه بندیانو خوشې کېدل چې ګواکې د یادو هېوادونو عسکرو په وژلو کې تورن پېژندل شوي وو وځنډول چې بلآخره یاد بندیان قطر هېواد ته په ځانګړې الوتکه کې واستول شول او بین الافغاني خبرو اترو ته یې زمینه برابره کړه. دا چې بین الافغاني خبرې اترې په کوم ډول د کامیابېدو لور ته رسېدلی شي او پر وړاندې یې کومې ستونزې شتون لري چې له مخې باید لرې کړای شي په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې ده.

## د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړې ته ځغلنده کتنه

په دوحه کې د روان کال فوروری میاشتې په ۲۹ نېټه د ۱۸ میاشتو خبرو اترو وروسته امریکا او افغان طالبان یوې نسبي هوکړې ته چې څلور برخې لري ورسېدل.

د دې هوکړه لیک په لومړی برخه کې دا ژمنه شوې چې د افغانستان خاوره به د امریکا او د امریکا متحدینو په خلاف نه کارول کېږي. په دویمه برخه کې بیا امریکا په 14 میاشتو کې د خپلو ځواکونو ویستلو مهالویش اعلانولو او ضمانت ورکول ژمنه کړې ده. په درېیمه برخه کې راغلي کله چې امریکا

Center for Strategic and Regional Studies

د خپلو ځواکونو د ویستلو مهالویش په ډاګه کړي نو طالبان به د افغان لوري سره بین الافغاني خبرې اترې پیل کوي. د هوکړې په څلورمه برخه کې راغلي چې هر اړخيز اوربند به د بین الافغاني خبر اترو د اجنډا برخه وي. که څه هم یادې څلور برخې له یو بل سره تړلي دي خو هغسې چې تاکل شوې، یادې برخې تر دې مهاله په خپل وخت نه دي بشپړې شوي.

## خپلمنځي خبرې په کوم پړاو کې دي؟

د روانې سپتمبر میاشتې په ۱۲ نېټه په دوحه کې د بین الافغاني خبر اترو پرانیست غونډه چې د ۱۵ په شاوخوا کې د مختلفو هېوادونو استازو په حضوري او آنلاین بڼه ګډون پکې درلود ترسره شوه. په غونډه کې د زیاتو هېوادونو استازو ګډون ښایي د افغان کشالې پیچلتیا ښیي. لومړنی ناسته کې د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد او د روغې جوړې شورا مشر ډاکتر عبدالله عبدالله ترڅنګ د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي حنیف اتمر په ګډون د افغان حکومت مذاکراتي پلاوي زیاترو غړو ګډون درلود. پرانیست غونډه ډاکتر عبدالله عبدالله څرګنده کړه چې روانه جګړه ګټونکی نه لري مګر د سولې راوستلو په صورت کې بیا هیڅوک بایلونکی نه دی. بلخوا ملا عبدالغني برادر بیا څرګنده کړه چې طالبان په پوره اخلاص سره خبرو اترو ته چمتو دي او په دواړو هیئتونو یې غږ وکړ چې د پوره حوصلې څخه کار واخلي. له دې پرته ښاغلي ملا برادر زیاته کړه چې هغوی د یو آزاد، پرمختللي اسلامي افغانستان غوښتونکي دي چې په راتلونکي نظام کې ټول افغانان د ورونو په څېر خپل ځانونه وګوري.

په لومړۍ پرانیست غونډې ورځ د دواړو لورو لخوا هیله بخښونکي څرګندونې ترسره شوې چې افغان ولس ورځنې په پراخه کچه هرکلی وکاوه او په ټولنیزو رسنیو کې یې دواړه لوري په دې پار وستایل، او دا ددې ښکارندویي کوي چې د امریکایي ځواکونو وتلو وروسته افغانان کولی شي د ورورۍ په فضاء کې داخلي ستونزې په خپله حل کړي او په دې برخه کې د بهرنیانو مرستې ته اړتیا نه لري.

بلخوا په وروستیو ورځو کې د آسیا پرمختیایي بانک لخوا د افغانستان اقتصادي ودې منفي پېنځه سلنې ته د ټیټېدو اټکل شوی او لاملونه یې هم د سیاسي او امنیتي ستونزو ترڅنګ د کوویډ ۱۹ بیمارۍ خپرېدل ښودل شوي دي. د بین الافغاني خبرو اترو پرانیست غونډې په لړ کې طالب چاروا کو د افغانستان اقتصادي پیاوړتیا لپاره د بهرنیو مرستو په دوام ټینګار وکړ په داسې حال کې چې د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په خپلو خبرو کې څرګنده کړې چې د افغانانو وروستۍ پرېکړې کولی شي د امریکا د راتلونکو مرستو تضمین وکړي. که چېرته په افغانستان کې سوله راشي نو د امریکا ترڅنګ ښایي ډېر نور هېوادونه د افغانستان اقتصادي پرمختګ په برخه کې د افغان ولس ترڅنګ ودرېږي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS-Kabul)

د پرانیست غونډې په دویمه ورځ د دواړو لورو لخوا تماس ډله جوړه شوه چې د طالبانو او افغان حکومت استازو ترمنځ لومړنی مخامخ ناسته سه شنبه د سپتمبر میاشتې په 15 نېټه ترسره شوه او دواړو خواوو یو بل ته د زغم او حوصلې په اړه ټرګندونې او همدارنګه د طرز العمل په هکله سپارښتنې وکړې. ویل کېږي چې د طرز العمل په برخه کې لږ تر لږه دوه اختلافي موارد لا هم شتون لري او تردې مهاله پرې دواړه خواوې توافق ته نه دي رسېدلي. د راتلونکو ناستو د طرز العمل پرته چې هغه هم تر دې مهاله بشپړ شوی نه دی د اجنډا جوړولو په موضوع خبرې نه دي پیل شوي.

## د خپلمنځي خبرو اترو پر وړاندې احتمالي خنډونه

1 - د اوربند قضیه

افغان حکومت ټینګار کوي چې د بین الافغاني خبرو په لړ کې دې تر هر څه دمخه اوربند پلي شي، مګر طالبان بیا وایي چې د اوربند پلي کېدو وړاندې دې ټول لاملونه چې جګړه یې منځ ته راوړې باید له منځه یوړل شي ترڅو د جګړې ټغر له هېواد څخه ټول کړای شي. طالبان دا هم څرګندوي چې حکومت پلوي ځواکونه د هغوی په ملګرو تهاجمي بریدونه ترسره کوي او هغوی اړ کېږي ترڅو د دفاع په موخه جګړه ییز فعالیتونه ترسره کړي.

2 - د نویو بندیانو خوشې کېدل

د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند ډاکتر محمد نعیم په بین الافغاني خبرو اترو د اجنډا په برخه کې ویلي چې د هغوی د بندیانو خوشې کېدل به هم د اجنډا برخه وي. په داسې حال چې له سرتاسري اوربند وړاندې د نورو بندیانو خوشې کېدلو موضوع مطرح کول بین الافغاني خبرې اترې ډېرې اوږدې کړي.

3 - ړانده ترورونه او هدفي وژنې

د بین الافغاني خبرو اترو پیل کېدو وروسته د ځینو چارواکو ترورونو زور اخیستی، او پرون په کابل کې د امریکا سفارت هم خبرداری ورکړی وو چې ښایي په افغانستان کې ځینې کړی په مشخصو کسانو بریدونه ترسره کړي. که چېرته روان بریدونه چې پړه یې څوک پر غاړه نه اخلي پای ته و نه رسېږي نو کولی شي د بین الافغاني خبرو اترو پر وړاندې خنډ په توګه رابرسېره شي .

خپلمنځي خبرې اترې څنګه کامیابېدلی شي؟

د 2001 کال اکتوبر میاشتې راهیسې چې افغانستان ته امریکا راغلې د جګړو او نا امنیو له امله شاوخوا 5.3 میلیونه خلک بې کوره شوي او د یو لکو څخه زیات و خلکو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، او په همدې کچه د معیوبینو او ټپیانو شمېر هم رسیږي. د دې لپاره چې د جګړو روانه لړۍ پای ومومي د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې تړون په تعقیب په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې په اړه خپلمنځي خبرې اترې پیل شوي دي. خو په ورته مهال د هېواد په کچه جګړو لاپسې زور اخیستی او هره ورځ د دواړو لورو تر څنګ یو زیات شمېر ملکي وګړي د نا امنیو او جګړو له امله خپل

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

ژوند له‌لاسه ورکوي .

د روانو خپلمنځي ناستو بنسټیزه موخه همدا ده ترڅو افغانستان ته د تلپاتې سولې په راوستلو کې مرسته وکوي، که چېرته د روانو خبرو اترو په لړ کې جګړې په‌همدې بڼه‌زور واخلی او جریان پیدا کړي نو دا کار کولی شي هغو داخلي او بهرنیو کړیو ته ښه فرصت په‌لاس ورکړي چې روان سوله د خپلو ګټو پر خلاف بولي. دا چې طالبان د اجنډا په سر د خبرو وړاندې د پاتې نورو طالب زندانیانو د خوشې کېدو په اړه خبرې کوي او افغان حکومت بیا ټینګار کوي چې اوربند دې پلې شي د دې ښکارندويي کوي چې بین‌الافغاني خبرې به اوږدې او لانجمنې وي.

## څه باید وشي؟

زمونږ په‌آند لاندې سپارښتنې کولی شي د بین‌الافغاني خبرو اترو کامیابېدو سره مرسته وکوي:

- په داخلي کچه دې د سولې لپاره غښتلې همغږي رامنځ ته شي، دا ځکه چې د جمعیت اسلامي ګوند یو مشر ښاغلي صلاح الدین رباني څرګنده کړې چې د افغان حکومت د سولې مرکچي پلاوی د ټول افغان‌ولس استازیتوب نه‌شي کولی له‌دې پرته د حزب اسلامي ګوند مشر ښاغلي حکمتیار هم‌په ډاګه کړې که‌د هغوی غوښتنو ته پاملرنه‌و نه‌شي د افغان حکومت په‌مشرۍ د سولې پروسې ملاتړ نه کوي او د حزب له‌ادرسه‌د سولې لپاره بېل کار کوي او همدا الامل‌وو چې د یاد ګوند او د سولې مرکچې پلاوي غړي ښاغلی غیرت بهیر د وحې ته له‌مله‌پلاوي سره ولاړ نه‌شو.
- په سیمه ییزه کچه دې د سولې لپاره همغږي رامنځ ته‌شي او ټول هغه اړخونه چې په افغان سوله کې دلچسپي لري هغوی دې د خبرو په میز راغونډ او ورته‌دې ډاډ ورکړل‌شي چې د سولې په‌صورت کې به‌افغان‌خاوره‌د هیڅ بېروني هېواد په‌خلاف نه‌کارول کېږي. دا ځکه‌په‌دې وروستیو کې چې افغان سولې په برخه کې یو لړ پرمختګونه رامنځ ته شوي دي د سیمې دوه هېوادونه هند او پاکستان چې یو یې د افغان حکومت او بل یې د طالبانو سره نږدې اړیکي لري په افغانستان کې د راتلونکې نظام د ترتیباتو په اړه خپلې اندېښنې شریکې کړي دي نو اړینه ده چې نه یوازې د هغوی ملاتړ ترلاسه شي بلکې هغوی ته‌ډاډ ورکړل‌شي.
- د خبرو په دوران کې دې دواړه خواوې په داخلي کچه د هغو بې طرفه افغان مشرانو یو هیئت وټاکي ترڅو هغو اختلافي مواردو ته چې د طالبانو او افغان حکومت پلاوو ترمنځ حل یې ناشونی او یا د زیات وخت نیونې سبب ګرځي مناسب حل پیدا او دوی ته مناسبې مشورې ورکړي. او په دې توګه هیڅ بهرني اړخ ته اجازه نه ورکول کېږي چې په خپلمنځي خبرو کې بې ځایه مداخله وکوي که څه هم ځینې امریکایي چارواکو د بین‌الافغاني خبرو د پیل په‌وړځ څرګنده کړې‌وه چې د ستونزو پر وخت به د حل لارو لټولو په برخه کې مرسته کوي. نوي ګډ تشکیل شوي هیئت ته دې دا دنده هم ورکړل شي ترڅو د دواړو لوري هغه کسان چې د سولې په لړ کې د جګړې په‌ژبه خبرې کوي قانع کړي او د سولې

لپاره په ولسي سطحه کار پیل کړي.

- دواړه لوري دې په پوره حوصلې او زغم سره خبرې اترې پر مخ یوسي. د عام ولس سره دې د خپلمنځي خبرو اترو پایلې وخت پر وخت شریکې شي، ترڅو افغان ولس ته په ډاګه شي چې د خبرو په دوران کې څوک د سولې راتګ مخالفت کوي. د مجاهدینو د بریا له تجربو دې ګټه پورته شي او هیڅ لوری دې د ګټونکي په حیث څرګندونې نه ترسره کوي، او په هېواد کې تل پاتې سوله دې د یوازینی موخې په توګه په پام کې ونیول شي.

**سرچینې:**

[1] https://www.nytimes.com/2020/09/12/world/asia/afghanistan-taliban.html?action=click&module=RelatedLinks&pgtype=Article
[1] https://www.youtube.com/watch?v=9qUcHWX_B0k&t=454s
[1]https://watson.brown.edu/costsofwar/files/cow/imce/papers/2020/Displacement_Vine%20et%20al_Costs%20of%20War%202020%2009%2008.pdf
[1] https://unama.unmissions.org/afghanistan-10000-civilian-casualties-sixth-straight-year
[1] https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-54209997

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

# تجلیل از روز جهانی صلح؛ در عالم پر از جنگ




۲۱ سپتامبر سال ۱۹۸۱م مطابق ۳۰ سنبله سال ۱۳۶۰هـ ش از سوی مجمع عمومی سازمان ملل متحد بنام روز جهانی صلح نامیده شده است. انگیزه نام گذاری این روز بنام «روز جهانی صلح» عبارت از ترویج فرهنگ صلح در میان ملت های مختلف جهان خوانده شده است. در بخش از اعلامیه مجمع عمومی چنین آمده است: «... از این روز برای مراقبت از ایده های صلح خواهی و تقویت آن چه در درون کشورها و اقوام مختلف و چه در میان آنها باید بهره گرفت[1].»

## مفهوم صلح

اولین و مهم ترین هدف در روابط بین الملل حفظ صلح و امنیت بین المللی است و این مهم طبق ماده ۲۴ منشور سازمان ملل متحد برعهده شورای امنیت سازمان ملل متحد قرار گرفته است. واژه صلح از لحاظ زبانی به معنای آشتی، دوستی و سازش به کار می رود. در فرهنگ سیاسی صلح به معنای حالت آرامش و روابط عادی با کشورهای دیگر و فقدان جنگ و نظام تهدید است. هم زیستی مسالمت آمیز در روابط میان کشورهای با نظام های مختلف، به معنای رعایت اصول: حق حاکمیت، برابری حقوق، مصئونیت، تمامیت ارضی هر کشور کوچک یا بزرگ، عدم

[1] https://amp.dw.com/fa-ir

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

مداخله در اموداخلی سایرکشورها و فیصله دادن به مسائل بین المللی است[2].

حفظ  نسل انسانی و تأمین سلامت برای بشر، از اهداف بنیادی اسلام نیز می باشد. به همین خاطر اسلام روابط مسلمانان با ملل دیگر را براساس صلح و صفا پی ریخته است. اسلام به مسلمانان اجازه نمی دهد که تنها به دلیل اختلاف اعتقادی، کسی را به قتل برسانند. جامعه اسلامی باید روابطش با دیگران براساس عدالت و احترام متقابل استوار باشد؛ عدالت حتی در باره دشمنان و مخالفان حکومت اسلامی نیز باید اجرا شود. قرآن کریم در آیه 8 سوره ممتحنهٔ دستور زیبایی دارد که ترجمه آن چنین است: «الله شما را از نیکی کردن و رعایت عدالت نسبت به کسانی که در امر دین با شما نجنگیده اند، و شما را از دیار تان بیرون نکرده اند، نهی نمی کند، بی گمان، الله عدالت پیشه گان را دوست دارد.»

اسلام، ِنهایت تأکید را دارد تا مردم جهان در آرامش به سر برند. حتی در حالت جنگ وقتی دشمن احساس ناتوانی کند و پیشنهاد صلح دهد، به مسلمانان امر شده که توکل بر الله نموده و پیشنهاد صلح را بپذیرند: «و اگر به صلح مایل شدند، پس تو نیز از در صلح در آی، و بر خدا توکل کن، بی گمان او شنوای داناست.» (ترجمه آیه 61 سورهء انفال)

در متون فقهی از صلح به عبارت (التراضی و التسالم علی أمر) یعنی رضایت دادن و تسلیم شدن دو طرف بر سر یک مسئله، تعبیر شده است. پیامبر صلی الله علیه وسلم نیز وقتی که دین خود را اعلام کرد، افراد بسیاری از قبایل مختلف با دین اسلام مخالفت کردند، و در این راستا پس از هجرت پیامبر (صلی الله علیه وسلم) به مدینه جنگ هایی رخ داد. پیامبر صل الله علیه وسلم پس از این جنگ ها که حدود شش سال طول کشید، استراتیژی صلح را دنبال کرد که بارزترین و مملوس ترین آن صلح حدیبیه است[3]. رفتار پیامبر اسلام در حوزه سیاست خارجی اصالتا مبتنی بر دعوت بوده است، که بعد از تشکیل حکومت اسلامی در مدینه و بعد از فتح مکه نیز ادامه داشت، پیامبر اسلام

برای تمام سران غیر مسلمان نامه می فرستد و ایشان را دعوت به اسلام می نماید. و این موقف گیری بیان می

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

---

[2] شیر، خانی. (۱۳۹۰). علوم سیاسی دعوت، جنگ، صلح. تهران: موسسه نی

[3] https://www.islamquest.net/fa/

نماید که نظر به شرایط دین اسلام می کوشید رفتار باید مبتنی بر صلح باشد.

## جنگ های جاری در جهان

جنگ اصطلاحی است که به انواع اعمال قهریه و جبریه ای اطلاق می گردد که دولتی نسبت به دولت دیگر اعمال می دارد تا آن را به تمکین اراده خود مجبور سازد. به اعتقاد کلاوزویتز، تئوریسن مشهور «جنگ ادامه سیاست است با وسایل دیگر.»

سوالی مطرح میشود که از جنگ های جاری کی ها سود می برند، درحالیکه انسانیت در مجموع از جنگ بیزار است؟ اگر جنگی وجود نداشته باشد کشورها مجبور به خریداری سلاح از قدرت های بزرگ نمی شوند. شرکت های امنیتی و کارخانه های تولید تسلیحات و مواد کیمیایی برای فروش تولیدات خود باید بهانه ای را بوجود بیاورند تا تولیدات شان بفروش برسد برای همین جنگ ها را در سراسر دنیا برنامه ریزی می نمایند. که از این طریق هم به دولت مالیات بیشتر داده و بودجه دولت ها افزایش پیدا می کند و هم خود ملیاردها دالر کسب می کنند. این چنین شرکت ها در بیشتر کشورهای جهان وجود دارد و فقط 6 شرکت تولید تسلیحات که بیش ترین سلاح ها را به فروش می رسانند، امریکایی است که بیش ترین سود را از جنگ ها در جهان اینها بدست می آورند[۴].

در جوامع امروزی جنگ معلول عوامل نظری و عملی پیچیده تری است که یکی از آنها منافع کارخانه های بزرگ سلاح سازی است. تقریباً در عقب تمام جنگ های جاری در کشورهای جهان سوم، چهره های تاجران سلاح، دیده می شود که بیش تر اوقات در عالی ترین مناسب حکومتی کشور های سازندهء سلاح نیز رخنه کرده اند. بعد از یازدهم سپتامبر در نقاط مختلف کره زمین درگیری های مسلحانه میان گروه ها و دولت ها درگرفته است که هر روز به شدت آن افزوده شده و بیشتر کشورها طعمه آن می شوند. بر اساس بررسی های انستیتوت اقتصاد و صلح در سال ۲۰۱۹ م خاورمیانه و شمال آفریقا (عراق، سوریه، یمن، لیبیا، مصر، سودان، سودان جنوبی، فلسطین، ایران، ترکیه، سومالیا و نایجیریا) مناطقی اند که ناامنی در آنها نسبت به سایر مناطق، بی داد می کند و از کم ترین درجه فضای صلح آمیز برخوردار اند. البته جنگ در خاورمیانه و شمال آفریقا، پدیده جدیدی نیست بلکه از زمانی

---

4 https://www.nunn.asia/150982/%D8%AC%D9%86%DA%AF-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%AC%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%D9%88-%D8%B5%D9%84%D8%AD- /

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

که نفت کشف گردیده، پای جنگ نیز به آنجا کشانیده شده. به این ترتیب، منابع نفتی و دسترسی ارزان کشور های صنعتی کلان به آن، یکی دیگر از عوامل دوام جنگ در این مناطق است.

از سویی دیگر، وجود حکومت های دیکتاتور و دست نشانده غرب سبب شده تا ملت ها وقتاً فوقتاً بر علیه حکومت های خود شورش نمایند و در صدد براندازی این حکومت ها باشند که این امر به نوبهء خود باعث انقلابات اجتماعی و بروز جنگ های داخلی گردیده است. خیزش هایی که در مطلع سال 2011 م در چندین کشور عربی حوزهء شام و شمال افریقا براه افتید و بعد ها عنوان «بهارعرب» یافت، در اصل عبارت از شورش های مردمی برعلیه فساد و استبداد حکومت هایی بود که بعضی شان در نتیجه خیزش ها به سرعت سقوط کردند و بعضی این حکومات، کشور را عمدا در دامن جنگ داخلی و مداخلهء بیرونی سقوط دادند.

از سویی هم بی ثباتی های که در کشورهای مختلف جهان به میان آمده، از جمله شورش جنگ داخلی افغانستان، بحران در ونزوئلا، اوکراین، پاکستان، میانمار، کانگو و غیره اکثراً، دست های پنهان قدرت های بزرگ در آن نهفته است. در حقیقت ایجاد اتحاد میان هم پیمانان و کسب متحدین جدید از طرق مختلف اجباری یا ارادی و یا تغییر در سیاست خارجی شان برای موفقیت در رقابت های که میان همدیگر دارند، دست به ناآرامی در این کشورها می زنند. در حالیکه کشورهای بزرگ در ظاهر، مدافعین صلح و امنیت بین المللی و تدوین کننده حقوق بشر استند ولی تا جایی پابند این مفاهیم استند که سد راه منافع آنها واقع نگردیده و اعمال تجاوز کارانهء شان را توجیه نماید.

## افغانستان در جستجوی صلح

هرچند، سابقهء جنگ در افغانستان به بیش از۴۰ سال می رسد، اما جنگ جاری که از سال ۲۰۰۱م میان حکومت و طالبان دوام دارد، خسارات سنگینی را برای مردم افغانستان به بار آورده است. در این جنگ قربانی از هر دوطرف گرفته شده ولی مردم ملکی بیشتر قربانی آن شده اند. طبق ارزیابی انستیتوت واتسون، از سال ۲۰۰۱ الی ۲۰۱۵ م ، به تعداد ۱۱۱۰۰۰ تن در جنگ افغانستان کشته شده اند. و مطابق گفته های رئیس جمهور محمد اشرف غنی ۲۸۵۹۲ سرباز نظامی و پولیس تنها بین سالهای ۲۰۱۵ الی ۲۰۱۳ م کشته شده اند. هزینه مجموعی اقتصادی

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

جنگ افغانستان طبق تخمین پوهنتون آکسفورد به ۲۰،۸۱۵ میلیارد دالر درسال می رسد، حال آنکه بودجه توسعه یی کشور طی سالهای اخیر از ۱،۶ میلیارد دالر تجاوز نمی کند[5].

در سال ۲۰۱۹ سروی ای از سوی بنیاد آسیا در رابطه صلح صورت گرفت. این سروی نشان می‌دهد که ۸۹ درصد افغان ها از مذاکرات صلح با طالبان حمایت می‌کنند؛ و ۶۴ درصد آشتی با آنها را ممکن می‌دانند. این سروی در نتیجه مصاحبه با ۱۷،۸۱۲ زن و مرد در ۳۴ ولایت افغانستان ترتیب یافته بود. به همین اساس مردم از توافق میان ایالات متحده امریکا و حرکت طالبان در فبروری 2020 م استقبال نمودند. به تعقیب این توافق نامه، مراسم گشایش مذاکرات مستقیم میان هیئت حرکت طالبان و وفد مشترک حکومت و سیاسیون افغانستان نیز به تاریخ 5 سپتامبر (15 سنبله) سال جاری در حضور نمایندگان جامعهء بین المللی در دوحه پایتخت قطر برگزار گردید. تا تحریر این سطور؛ تیم مشترک مصروف بحث روی نقشهء راه مذاکرات بین الأفغانی صلح در دوحه بوده و مردم افغانستان با بی صبری منتظر شنیدن نتائج نیک آن می باشند.

امیدواریم نشست دوحه آغازی باشد برای مذاکرات بین الافغانی ایکه آتش بس دائمی و تحقق مصالحهء واقعی در کشور را به دنبال داشته باشد.

---

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز یو غیر انتفاعي، غیر حکومتي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ هـ ش کال کې تأسیس شوی دی. مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو او رغنده خبرو له لارې په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو ارزولو او د هغو د پراختیا لپاره فعالیت کوي. د مرکز یوه موخه دا هم ده چې د نویو څېړنو او پالیسیو ترمینځ داسې ارتباط قایم شي چې په پایله کې د هېواد په کچه تولې پالیسۍ په مطالعې ولاړو اکاډیمیکو اصولو برابرې شي.

www.csrskabul.com

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS Kabul)

[5] https://www.nunn.asia/150982/%D8%AC%D9%86%DA%AF-%D9%87%D8%A7%DB%8C-%D8%AC%D8%A7%D8%B1%DB%8C-%D9%88-%D8%B5%D9%84%D8%AD-%DA%AF%D9%85%D8%B4%D8%AF%D9%87-%D8%AC%D9%87%D8%A7%D9%86-%D9%85%D8%B9%D8%A7%D8%B5%D8%B1/